مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۶/۱۱/۱۸

امیرعبدالرحمن خان اود هغه استبداد

امیر عبدالرحمن خان د افغانستان د معاصر تاریخ تر ټولو مستبد پاچا بلل سوی دی. خودا یوه خبره مو په باد وي چې که امیر عبدالرحمن خان او د هغه استبدادي پالیسی نه وای افغانستان به وجو نه درلو دلای. امیر ریشتیا هم د خپل استبداد په برخه کي کله کله د هیڅ سرحد رعایت نه کاوه. له دي حقیقت څخه هم سترګي نه سو پټولای چې استبداد په هیڅ توګه د منلو وړ نه دی. ځکه د استبداد په جریان کي هر وخت وچ او لانده ګډ سوزي او بېګناه او ګناهکهار دواړه سزا ویني.

خو که چیرې یو ځل د امیرعبدالرحمن خان د پاچهی په وخت کي د افغانستان شرایط وګورو نو پوهیږو چې امیر ښایی کله کله د استبداد کولو په برخه کي حق په جانب هم وي. امیر په داسي حال کي قدرت ته ورسېدی چې هرات د سردار ایوب خان په لاس کي وو او غوښتل یې د کندهار له لوري پر کابل باندي حمله وکړي او د کابل تخت د ځان کړي. په مشرقي کي د کنړ سید محمود، چې مخکي یې لا د برتانیي له استازي لیپل ګریفین سره موافقي کړي وي، ځان د کنړپاچا باله. شینوارو، مومندو اوخوګیانیو خپلې سیمي مستقلې بللې او هیڅ چا ته یې د تسلیمېدلو خیال نه درلود. غلجي قبایل، اندړ، سلیمان خېل، ناصر اوهوتک کابل ته نه تسلیمېدل. نورستان یا پخوانی کافرستان له ازله مستقل وو. په مزار شریف کي د امیر د کاکا زوی سردار محمداسحق خان ځان د ترکستان پاچا باله او په وروسته کي یې د کابل د نیولو لپاره حرکت پیل کړ. په مرکزي سیمه کي هزاره ګانو د امیر اطاعت نه کاوه. ملا مشک عالم پر امیر باندي د کفرفتوا ورکړې وه او په کندهار کي له ایوب خان سره ملګرو ملایانو عبدالرحمن خان کافر او ایوب خان غازي بللی وو.

امیر عبدالرحمن خان له دی ټولو ستونزو سره په داسي حال کي مقابله وکړه چې نه یې پوځ او نه یې خزانه درلوده اوکه ورسره جنګېدلی نه وای او له استبداد څخه یې کار نه وای اخیستی نن به نه یوازي افغانستان موجود نه وای بلکه ښایی په سلګونو زره او حتی میلیونونه افغانان د انارشي او پرله پسې داخلي جنګونو قرباني سوي وای.

زه په داسي حال کي چې د امیر عبدالرحمن خان د استبداد په برخه کي د ښاغلي ډاکټرنوراحمد خالدي د نظر بشپړ ملاتړ کوم او بالمقابل د ښاغلي احمد آریا « تاریخ نګاری یا تطهیر استبداد» مضمون لمسونکی، د تاریخي حقایقو مسخ او په اوسنیو شرایطو کي شعوري تفتین او د افغانستان له اولسونو سره څرګنده دښمني بولم. ځکه د ښاغلي احمد آریا د مفصل مضمون ټول مطلب دا دی چې عبدالرحمن خان د خپل استبداد په دوران کي له هزاره ګانو سره یوازي جنګونه نه دي کړي بلکه د هزاره نسل کشي یې کړې ده.

د ښاغلي احمد آریا د هزاره د نسل کشي ادعا به هغه وخت سمه وای چې که امیرعبدالرحمن خان د خپل استبداد هدف یوازي هزاره ګرځولي وای او د هزاره لس چنده پښتانه یې وژلي نه وای.

په کندهار کي د انګلیسیانو خبریال میرهاشم د ۱۸۸۳ کال د مې پر اووه لسمه خپل د کوټي مرکز ته خبر ورکوي چې امیر د شینوارو د ځپلو لپاره ۱۲۰۰۰ زره کسیز پوځ واستاوه. ۱۰۰۰ تنه شینواري یې ووژل او د هغوی له سرونو څخه یې دوه کله منارونه جوړ کړل. یو یې د جلال آباد په یوه دروازه او بل یې په بله دروازه کي ودرواه.

Kandahar Newletters 1883 May 17. Vol 1 p43

د انګرېزانو بل خیریال خان بهادر میرزا محمدتقی خان د ۱۸۸۷ کال د اګست پر دوهمه کوټي ته رپوټ ورکوي چې د هغو غلجیو یاغیانو چې په وروستیو جنګونو کي وژل سوي ول ۱۱۰ سرونه کندهار ته راوړل سول او د ګورنر په حکم یو کله منار ورڅخه جوړ سو. خبریال وایی د ښار خلک ځکه په غوسه ول چې ویل یې په کله منار کي د ښځو سرونه هم سته. خو دی وایی کله چې کله منار ته نیژدې ورغی نو ویې لیدل چې هغه د ښځو سرونه نه ول بلکه د ناصرو ځوانانو سرونه ول چې څوني یې درلودلی. Ibid Vol 3 P196

همدغه خبریال د ۱۸۸۶ کال د نومبر پر پنځه لسمه لیکي چې د کندهار ګورنر په دربار کي سکندرخان ته امر وکړ چې هوتکو ته ټینګه سزا ورکړي. سکندرخان په جواب کي ورته وویل چې زما زوی جنرال غلام حیدرخان اووه یابو ګان د اندړو په سرونو بار راوړل. زه چې د هغه پلار یم نو حتماً به د هوتکو د سرونو ۷۰ بارونه درته راوړم.

Ibid p 74

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډاکټر حسن کاکړ په دغه اړه ليکي: « د کندهار د خاصه دارانو قوماندان او د جنرال غلام حيدرخان اورکزي پلار سکندرخان اورکزي ته د هغو هوتکو د ځپلو وظيفه وروسپارله سوه چې لا يې ښورښ کړی نه وو او په ښورښونو کې يې د برخې اخيستلو تياری کاوه. هغه هوتکو ته امر وکړ چې هره کورنۍ به يوه توره يوتوپک او پنځه روپۍ تحويلوي. دغه راز اورکزی جنرال له خپلو پوځيانو سره د اندړو سيمې ته ورغی او هغوی يې مجبور کړل چې هره کورنۍ به يو سپر، يوه چاړه، يو آس حکومت ته ورکوي او د اووکالو لپاره به ماليات وربانديې اضافه کيږي. د هغوی غلی دانې يې ورځخه ضبط کړي او هغوی يې مجبور کړل چې عسکر اود هغوی آسونه به مړوي. دغه راز يې ډېر زيات اندړ د اجباري کارونو لپاره استخدام کړل. . . پر دوی باندې ډېر زيات ظلمونه وسول او ښځې يې بې عزته سولې. د حکومت د دغو ظلمونو له لاسه، د توخو، اندړو او تره کو ۷۰۰ کورنيو خپلې مځکې پرېښودلې او د کاکړو سيمو ته يې مهاجرت وکړ او ځينې د منګلو سيمو ته ولاړل. Hasan Kakar. Afghanistan, A Study in Internal Political …. P 124

امير عبدالرحمن خان د خپلو پاليسيو د پرمخ وړلو، د مرکزي حکومت د ټينګولو اود ناراضيانو، مخالفينو او ياغيانو د ځپلو لپاره له هرې وسيلې ځخه کار اخيست. امير له کوم چا سره شخصي دښمنی نه درلوده خو د خپل قدرت د دښمنانو د ځپلو په لاره کې يې د هيڅ ډول وسيلې د استعمالولو ځخه مخ نه اړاوه او هيڅ ډول اصول يې نه رعايتول. امير د خپلو دښمنانو د ځپلو لپاره نه کافي پوځيان او نه لازمي پيسې درلودلې؛ ځکه يې نو د افغانانو ترمنځ د داخلي دښمنيو ځخه ګټه اخيستله. هغه خپل دښمنان په دې توګه وځپل خو د قبايلو او اقوامو ترمنځ يې، په راتلونکو کلونو کې د دښمنيو اورونه تازه کړل. زه په دې عقيده يم چې د اعليحضرت امان الله خان سره د غلجيو د نه پخلاکېدونکو ښورښونو او جنګونو يو علت د امير همدغه قومي پاليسۍ وې. کاکړ ليکي:

« امير د غلجيو د ځپلو لپاره له خپلو درانيو ځخه مرسته وغوښته او کوښښ يې وکړ چې د هغوی ترمنځ د زړو دښمنيو ځخه ګټه پورته کړي. امير بارکزيوته خبرداری ورکړ چې غلجيو ستاسي ځخه د پاچهی د نيولو تکل کړی دی. ده هغه درانې بيرته پخلا کړل چې د ايوب خان سره د ملګرتوب له امله ورځخه خوابدی وو او حکومتي وظايف يې نه ورکول. امير، چې پخوا يې پر بارکزيو باندې درانه ماليات وضع کړي وه، ټول بارکزي له ماليات ځخه معاف کړل. بارکزيو په ورين تندي له حکومت سره همکاري پيل کړه او حکومت ته يې عسکر ورکړل. امير درانيو ته وويل چې ټول هغه مالونه چې د غلجيو له چور او تاراک ځخه ترلاسه کوي هغه د دوی مال دی. د کابل قزلباشو ته يې وويل چې هزاره له غلجيو ځخه وساتي او ضمنن يې هزاره مشرانو ته دا ور په زړه کړل چې غلجيو له هغوی سره د افغان او انګليس په لومړي جنګ کې ظلمونه کړي دي او دوی بايد کسات ورځخه واخلي» Ibid p 25

مخکې مې دې خبرې ته اشاره وکړه چې امير عبدالرحمن خان د افغانستان د تاريخ تر ټولو مستبد امير تېر سوی دی. ځينې کسان هغه ته د يوه ظالم په سترګه ګوري چې ظلم يې سرحد نه درلود او ځينې کسان د هغه اعمال توجيه کوي اووايی چې که امير د مخالفينو او ياغيانو په مقابل کې د سختی ځخه کار نه وای اخيستی داخلي جنګونو او ښورښونو به تر نامعلومې مودی پوری دوام کړی وای.

خو زه وايم چې امير عبدالرحمن خان يوازې يو شخص وو. هغه که ښه کړي دي او که يې بد کړي دي د خپلو اعمالو مسوول دی. د هغه له استبداد او ظلم سره د پښتون قام ترل او يا د هغه استبداد ته، چې تر هر چا زيات پخپله پښتنو او په تېره بيا غلجيو پښتنو ته، چې پرله پسې ښورښونه يې کول، متوجه وو. په دې ترتيب نو د هغه استبداد ته د نسل وژنې Genocide نوم ورکول او يا ټول پښتانه د هغه د اعمالو مسوول بلل او د پښتنو په مقابل کې د هزاره قام قهر او غوسه پاروي يوازې د بې مسوولیتو او فتنه اچوونکو کسانو کار دی. تر هغه ځايه چې اسناد حکم کوي، عبدالرحمن خان يوازې د خپل حکومت او قدرت له غليمانو او ښورښيانو سره له سختی ځخه کار اخيستی او په دغه برخه کې يې کله کله سرحد نه پېژندی. ډاکټر کاکړ ليکي:

« امير غلجيو ته پېشنهاد وکړ چې په سوله ايز ډول خپلو کورونو ته ستانه سي او پر هغوی باندې به هيڅ ډول پوځي عمليات نه کيږي. امير حتی له هغوی سره ژمنه وکړه چې د هغوی د ورانو سويو قلاګانو په جوړولو کې به مرسته ورسره وکړي. امير ځيني غلجي بنديان خوشي کړل او هغوی ته يې يو څه پيسې هم ورکړې. مګر ياغيانو تسليمېدل ونه منل. امير په يوه اعلاميه کې وويل چې له ملا عبدالکريم، محمدشاه هوتک او شېرجان ترکي پرته نور ټول هغه ياغيان بخښي چې د کاکړو سيمو ته تښتېدلي دي. په وروستيو جنګونو کې د غلجيو تقريبن ۲۴ زره تنه وژل سوي وه، په داسي حال کې چې د امير له طرفه د تلفاتو شمېر معلوم نه وو» کاکړ هغه کتاب ص ص ۱۳۵-۳۶

داسي ښکاري چې امير له ناصرانو سره، چې په کندهار کې يې د هغوی د سرونو يو کله منار هم جوړکړی وو، تر تقريبن ټولو نورو قبايلو سخت سلوک غوره کړی وي. په کندهار کې د انګليسانو خبريال بهادر ميرزامحمدتقی خان د ۱۸۸۹ کال د جون پر اته ويشتمه کوټې ته په خپل رپوټ کې ليکلي دي:

« د کندهار ګورنرته د قلات غلزايی حاکم او د شينکی د پوځي مرکز صاحب منصبانو ليکلي دي چې د ناصرو د قبيلې تقريبن ۱۰۰۰۰ کورنۍ دروازه ګی او لواغر ته راغلي دي. هغوی ته ويل سوي دي چې افغانستان ته به نه داخليږي. هغوی ټول فرياد کوي چې مور له افغانستان پرته بل وطن نه لرو. دوی ويلي دي چې يا دي ټول ووژل سي او يا دي وطن ته د داخلېدلو اجازه ورکړه سي. . . . ګورنر بالآخره فيصله وکړه چې د دوی شل تنه مشران دي کابل ته ولاړسي او شل تنه مشران دي کندهار ته وليږي چې له حکومت سره خبرې وکړي او د دوی د ستونزي په برخه کې فيصله وسي» Kandahar Newletter Vol4 pp115-16 News D.No.324

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په دي کي هيڅ شک نسته چي امير يو سخت سنی او حنفي مذهبه مسلمان وو او په خپلو اجرآتو او عملياتو کي به يې حتمن سنی عقايدو ته ترجيح ورکړي وي. خو هغه له خپلو اتباعو سره هيڅ وخت د مذهبي تعصب په اساس سلوک نه وو غوره کړی. خو په يوه مسله کي چي امير ډېر سخت حساسيت ورسره درلود هغه د افغانستان په چاروکي خارجي مداخله وه. له خارجي مداخلي سره د هغه حساسيت د جنون سرحد ته رسېدلی وو. د ده د پاچهی په دوران کي هيڅ افغان حق نه درلود چي له خارجي سره حتی سلام قدر هم وکړي. او که کوم افغان د انګرېزانو د استازي، چي معمولن به مسلمان وو، دفتر ته نيژدې ليدل سوی وای حتمن به يا بندي کېدی، يا وژل کېدی او يا به يې سخته جريمه تحويلوله.

په دې ارتباط د مشهد ملا امام شيخ محمدتقي په ۱۸۹۳ کال کي يوه فتوا صادره کړه او په افغانستان کي يې د سنيانو پر ضد جهاد اعلان کړ. هغه دا فتوا وروسته له هغه صادره کړه چي د ايران شاه ونه سو کړای په افغانستان کي د شيعه ګانو د تعقيب اوآزار مخه ونيسي. د ايران شاه بالآخره لندن ته شکايت وکړ. لندن په هند کي خپل ويسرا ته هدايت وکړ چي له امير سره تماس ونيسی. وايسرا امير ته وليکل چي دا به ډېره ګټه وره وي چي که هغه ته اجازه ورکړه سي چي دا ريوټونه رد کړي. مګر امير هغه ته په جواب کي وويل چي زه له خپلو ياغي شيعه اتباعو سره هغه ډول سلوک کوم چي زه يې غواړم. امير هغه ته وليکل چي که داسي څرګنده سي چي د ايران شاه او د هغه هيواد ملايان وغواړي چي د افغانستان په چارو کي مداخله وکړي نو د افغانستان سنيان کولای سي چي د ترکيې له سنيانو څخه د مرستي غوښتلوپرته د ايران جواب ورکړي.

ډاکټر حسن کاکړ د دې مسلې په اړه وروسته خپل نظر څرګندوي او په قاطع ډول ادعا کوي چي دا خبره څرګنده ده چي امير عبدالرحمن خان غوښتل، د نادرشاه افشار په څېر، يوازي سنی مذهبه هيواد ولري. کاکړ، هغه کتاب ص ۱۷۹

البته د مرحوم کاکړ صاحب دا ادعا د تامل وړ ده. ځکه چي امير عبدالرحمن خان په دې برخه کي د بشپړ احتياط څخه کار اخيستی او د مسلي حساسيت ته متوجه وو. د انګليسيانو خبريال ميرهاشم د ۱۸۸۳ کال د اپرېل پر دېرشمه کوټي ته په خپل يوه رپوټ کي ليکلي دي:

« امير ګورنر ته يو مکتوب ليږلی او ورته ليکلي يې دي چي زه خبر سوی يم چي ته خپل زياتره وخت په عام دربار کي د شيعه او سني عقايدو پر اختلافاتو باندي بحث کوې او پر شيعه عقايدو باندي انتقاد کوې. امير په دې مکتوب کي تهديد کړی دی چي که هغه ته بيا داسي اطلاع ورسېده نو سمدستي به يې کابل ته احضار کړي» Kandahar Newsletters Vol1 P36

امير عبدالرحمن حان يو مطلق العنان مستبد پاچا وو. هغه هيڅ چا ته مسوولیت نه احساساوه. دا عمل او د اداري طرز يې، په عادي حالاتو کي، په هيڅ توګه د منلو نه دی. او له دې مطلقي خود سری سره چي د لس هاوو زرو کسانو وژل کېدل او د لس هاوو زرو کورنيو تباه کېدل يوځای سي بيا خو په هيڅ توګه د قبلېدلو نه دی. خو دا خبره بايد په نظر کي ونيسو چي په افغانستان کي داسي حالات وه چي امير يې استبداد کولو ته مجبوراوه.

په هرات کي د ده د کاکا زوی سردار محمدايوب خان، چي ځان يې د کابل د تخت قانوني وارث باله. ملا مشک عالم او د هغه له وفات څخه وروسته د هغه زوی ملا عبدالکريم، چي د امير د کفر فتوا يې صادره کړې وه او ملا عبدالکريم خپل ځان پاچا اعلان کړی وو. د ترکستان نايب الحکومه سردار محمداسحق خان، بالاخره پر کابل باندي خپل پوځ ته حرکت ورکړ. شېرجان تره کي خپل ځان باچا اعلان کړی وو. نورستان تردغه تاريخ پوري د هيڅ پاچا قدرت نه وو منلی. هزاره ګانو د امير عبدالرحمن خان استازي ته په جواب کي ووېل چي له دوی سره بايد د يوه هيواد په توګه مذاکرات وسي نو د هغه د رعيت په حيث. غلجيو د ۱۸۲۰ د لسيزي څخه وروسته نه يوازي چاته ماليه نه وه ورکړې بلکه له کابل څخه تر کندهار پوري يې په څو ځايونو کي له تجارتي کاروانونو څخه ماليه اخيستله.

امير عبدالرحمن خان دوي لاري درلودلي. يا يې بايد د کابل تحت پرې ايښی او بيرته بخارا ته تښتېدلی وای او يا يې بايد د دې ټولو رقيبانو د اېلولو لپاره جنګ کړی وای. هغه دوهم حالت ته ترجيح ورکړه. مرکزي حکومت ته د دې ټولو ياغي قواوو د تابع کولو لپاره وجنګېدی. په جنګ کي مرګونه کيږي، کورونه او قلاوي تباه کيږي، سرونه رغړي او مالونه چوريږي. په اصطلاح په جنګ کي حلوا نه وېشله کيږي. خو د دې ټولو خبرو ترڅنګ پر هغه باندي د نسل وژني تهمت ويل د فتنه ګرو کار دی. اود امير اعمال د ټولو پښتنو اعمال بلل پر حقيقت باندي په لوی لاس سترګي پټول دي.



[په افغان جرمن آنلاين پورتال کی د جهانی صاحب آرشيف]

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ